مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۸/۱۹

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۹۳مه برخه

زما ښایسته‌ځواني زړېږي
که له عربو دولت راوړې، څه بې کړمه

بېګا مي خوب لیده جانانه
ستا په دیدن پسې کابل ته تللې‌مه

د ښلوطن لېوان دي وخوره
چي نوم نښان دي له دفتره لرې‌شینه

د لنډیو د دې برخې له پاره لاندې لنډۍ راټولې شوې دي:

چا ته مو هېڅ ویلی نه‌دي
په خپله سپک دي، نور هم سپک حسابوینه

چي مازدیګر شي، کښته لمرشي
په چا اخترشي، څوک د غمژړا کوینه

خدایه د زړه طبیب مي ته شې
د دنـیـاګۍ طـبـیـان زهـر راکـویـنـه

زړه خو مي نه‌کېده چي لاړشم
زه ستا شلیدلي ټیکري ورک له ملکه کړمه

زما ښایسته‌ځواني زړېږي
که له عربو دولت راوړې، څه بې کړمه

زموږ خو ژوند د غريبۍ دی
جانان دې خدای په میلمستیا نه‌راولینه

زړه کې مې داسې اور بلیږي
که څوک تودیږي، زما خواله دې راځینه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

**زما دا وچې‌شونډې ګوره**
**چې شونډې داسې وي، نو زړه به څنګه وینه**

**زما جنت ـ جنت وطنه**
**دا غریبي مې ستا کوڅو کې نه‌پرېږدینه**

**زما به زلفې سمې نه‌شي**
**څو چې ګړې جنډې په تا ولاړې‌وینه**

**زما به زلفې سمې نه‌شي**
**څو چې رنګه جنډې په تا ولاړې‌وینه**

**زما دې څه‌وکړو کم‌عقله**
**په ځان دې وران کړل د بخملو پالنګونه**

**زما پخوا کډه پرسر وه**
**سږنۍ‌کال هم ستا دیدن ته تېرومه**

**ژړا به خپله‌ځواني راشي**
**څومره په کم‌عمر مې ولیدل غمونه**

**بېګا مې خوب لیده جانانه**
**ستا په دیدن پسې کابل ته تللې‌مه**

**بوډا د کټ د ختو نه دی**
**د کټ په پښه کې ورته پاټکی جوړومه**

**په تمه – تمه به دې زوړکړي**
**نه دې یار کړي، نه به درکړي ځوابونه**

**پر تناره مه‌ورغوړېږه**
**د اوربل څوکې به دې اور وسوځوینه**

**پر سترګو توره پرده راغله**
**چې مې رقیب پرلالي واچول لاسونه**

**پوه نه‌شوم کوم‌لوري ته لاړې**
**د کوم وطن باد به دې څنې ښوروینه**

**په ماښامي کې رانه ورکه**
**د کورملکه تنهایی ته ناسته‌یمه**

**د ورځې لس‌ځلې توبه کړم**
**چې په خندا شي په توبو مې خېژوینه**

**د لیوني زړه کې به څه وو**
**وروستي دیدن کې یې کاږه راوکاتنه**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د ملهکنډ لار ورته نیسم
زما د زړه تاوان دې راکړي، بیا دې ځینه

د بلوطن لېوان دې وخوره
چې نوم نښان دې له دفتره لرېشینه

د نړۍ ټولخلک خواږه دي
په میدانيجانان شرطونه لګومه

د لیوني ارمان پورهشو
په لاره ځي، په لوټو ولي زیارتونه

د قافلې سالاره څهشوې
په قافلې خو دې لېوان ګډشويدینه

د ملا په تیر کې مې درد راغی
چې مې رقیب پرلالي واچول لاسونه

د مازدیګر دیدن یې ګرانشو
مور یې شکمنه شوه، منګی نهورکوینه

دا ډېرې خولې، ډېرې خبرې
د چا ـ چا خولې ته به برغولي جوړومه

دونیا به ستا تر سره جار کړم
ستا یودیدن په درست جهان نهورکومه

د چا له غمه هېڅڅوک نه مري
که نه په تا پسې به زه مړ شوۍومه

د بېوسۍ حد ته مې ګوره
په خوله کې روغه ژبه ګونګه ګرځومه

ښهشو چې ستا دوران خو تېرشو
هرمازدیګر به سترګې سرې درنه راتلمه

سترګې دې ډېرې د مزې دي
په ژړاګانو بې خرابې کړې مېئنه

ستا به واده، زما به مرګ وي
تا به محل، خو ما به تورلحد ته وړینه

سر مې که یوماښام سرتور کړ
بیا به دې مور په زیارتونو ګرځوینه

شال یې شمال له سره یووړ
په تیږو ما ولي چې تا ته مې کاتنه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**موريږ ترخه‌شوله پخه‌کړه**
**د باران‌شپه ده، جانان موږ کره راځینه**

**ما ویل چي زه به درته ژاړم**
**له ما نه مخکې اوښکې ستا پر راځینه**

**که خدای په هرمرض اخته کړم**
**زه به ښېرې د جانان سترګو ته کومه**

**که مې ریښتیا غږوي یاره**
**د زړه په زور خندا کوم، وخت تېرومه**

**تر کلي سورتولی را تاو دی**
**سالاره یاره بیا دې څه ویلي دینه**

**ته پر شلېدلي کټ ویده شوې**
**ما په تیاره‌موټر کې تورپنجاب ته وړینه**

**فکرمې سل‌ځایه ویشلی**
**سترګې مې ستا په‌لور کږې درپاتې‌دینه**

**یا مې جانان په زړه کافر دی**
**یا ملا کړي بې اودسه تعویزونه**

**یومازدیګر نه‌دی چې تېرشي**
**هرمازدیګر دې نوی ـ نوی غم راځینه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ